# جریده میــــزان

## د سترې محکمې کاري ځرګندویه خپرونه

### د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:

ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تيری ونه کړئ.

زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.

تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۸ وږی ۱۴۰۱ هـ ش | ۲ صفر المظفر ۱۴۴۴ هـ ق | ۳۰ آګست ۲۰۲۲ م | مسلسله شمېره (۱۵)


## د سترې محکمې اړوند قضائي زده کړو رياست کې د مرافعه، ښاري او نظامي محاکمو رئيسانو او د سترې محکمې قضائي منسوبينو ته جوړ شوی قضائي سيمينار پای ته ورسيد

د سترې محکمې د عالي مقام د هدايت په اساس د قضائي زده کړو رياست کې د مرافعه، ښاري او نظامي محاکمو رئيسانو او د سترې محکمې قضائي منسوبينو ته جوړ شوی ۱۲ ورځنی قضائي سيمينار پنجشنبه (۱۴۴۴/۱/۲۷ هـ ق) نېټه پای ته ورسيد.

په دغه قضائي سيمينار کې چې په ۱۴۴۴/۱/۱۵ هـ ق نېټه پيل شو د ۲۴ ولايتونو د مرافعه، ښاري او نظامي محاکمو د رئيسانو او د سترې محکمې د قضائي منسوبينو په ګډون ۸۵ کسانو حضور درلود.

ياد قضائي سيمينار د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) حفظه الله په وينا پيل شو.

شيخ صاحب حفظه الله وويل، له الله (جل جلاله) څخه د سيمينار ټولو ګډونوالو ته اجر عظيم غواړم چې له لرې ولايتونو څخه راغلي او په ياد سيمينار کې يې ګډون کړی، د دغه سيمينار موخه په قضائي موضوعاتو باندې مشورې، او په دغه برخه کې د موجوده ستونزو لپاره حللارې پيدا کول وبلله.

شيخ صاحب حفظه الله وويل، دا چې په هر ولايت کې د سترې محکمې لخوا په جلا جلا ډول د ورته سيمينارونو جوړول ډېر وخت غواړي، نو ځکه ګټوره لار داسې ده چې: د دغه قضائي سيمينار تر پای ته رسېدو وروسته د سيمينار د ګډونوالو لخوا چې د مرافعه، ښاري او نظامي محاکمو رئيسان او قضائي منسوبين دي په يو وخت په خپلو اړوند ولايتونو کې ورته ۱۲ ورځني قضائي روزنيز سيمينارونه جوړ کړي.

محترم قاضي القضات وويل، زموږ هيواد کې اسلامي نظام د ډېرو لويو قربانيو په نتيجه کې حاکم شوی دی، نو بايد د الله (جل جلاله) په توفيق هڅه وشي چې د شريعت ټول احکام زموږ هيواد کې عملي شي او هيواد مو د قضاء منصب کې په ټوله نړۍ کې غوره مثال جوړ شي.

د سترې محکمې اړوند قضايي زده کړو رياست کې جوړ شوی سيمينار چې هره ورځ د سهار اووه بجې پيل او د مازيګر تر ۴:۰۰ بجو يې دوام درلود دوې برخې (نظري او عملي) لرلې.

د سيمينار په لومړۍ (نظري) برخه کې ګډونوالو ته د قضاء منصب اړوند د مختلفو شيوخو کرامو لخوا پنځه قضائي او اداري کتابونه تدريس شول، په دويمه (عملي) برخه کې د سيمينار ګډونوالو ته د قضاء او افتاء اړوند مختلفې طريقې او لارې ور وښودل شول.

د يادونې وړ ده چې د دغه قضائي روزنيز سيمينار په پای کې ټولو ګډونوالو ته د سترې محکمې د محترم مشرتابه لخوا تصديق پاڼې هم ووېشل شوې.

بايد ووېل شي چې د پاتې ۱۰ جنوبي ولايتونو د محاکمو د مسوولينو لپاره په همدې نېټه کندهار ولايت کې ورته قضائي سيمينار جوړ شوی و.

## «هره محکمه په حکم کې استقلاليت لري، مناسبه نه ده چې د لوړې محکمې څخه په حکم کې استهدأ وکړي»

د هلمند د استيناف محکمې رئيس په ۱۰/محرم الحرم/۱۴۴۴ هـ ق نېټه د دې محکمې د غونډو په تالار کې جوړه شوې ناسته کې وويل چې هره محکمه په حکم کې استقلاليت لري، مناسبه نه ده چې د لوړې محکمې څخه په حکم کې استهدأ وکړي.

په ياده ناسته کې چې د هلمند د استيناف محکمې د رئيس مولوي سراج احمد (ابو سعيد الغزنوي) په مشرۍ جوړه شوې وه د هلمند ولايت د مرافعې محکمې د ديوانو رئيسانو، مفتيانو، محررينو او همدارنګه د ښهري محکمې رئيس، د ديوانو رئيسانو، مفتيانو، محررينو، د ثبت اسناد او وثايقو آمر، مفتي، محرر، د تحريراتو عمومي آمر ملا حبيب الرحمن ګډون درلود.

د غونډې په پيل کې محترم مولوي سراج احمد (ابو سعيد الغزنوي) د غونډې ګډونوالو ته په قضائي او اداري چارو کې لاندې سپارښتنې وکړې.

۱. په محاکمو کې فيصلې بايد د مکتوب په صادرولو ونشي؛ بلکې اصولي او قانوني فيصلې وشي.

۲. هره محکمه په حکم کې استقلاليت لري بناً مناسبه نده چې د لوړې محکمې څخه په حکم کې استهدأ وکړي.

۳. فيصلې بايد په اصولي طريقه او ژر صادرې شي .

٤. کله چې فيصله په اقرار بنأ وي بايد په اصولي طريقه يې فيصله وشي او په شفاهي ډول يې موضوع خلاصه نشي.

٥. په درېيو اونيو کې بايد يو اداري مجلس جوړ شي چې د خپل مشترکه ضروورياتو په اړه په کې خبرې وشي.

د يادونې وړ ده چې په دې ناسته کې د قاضيانو صاحبانو ځينې غوښتنې هم واورېدل شوې او دوی ته قانع کوونکی ځواب وويل شو.

غونډه د دعا په ويلو سره پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۱**

**نېټه: ۱۴۴۴/۱/۹ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاريخ ۱٤٤۳/۷/۱٦ هـ ق د سترې محکمې عالي شورا داسې هدايت وکړ : (دارالانشاء رياست دې د کابل د استيناف محکمې څخه د مثنی ورکولو د مخکنې ترتيب او طريقې په باره کې تحريري معلومات راوغواړي، تر څو معلومه شي چې کوم اصول قابل عمل او کوم د ليرې کولو دي، تر دغه وروسته به د مثنی ورکولو اصول او طريقه تعين کړو) د هدايت سره سم د موضوع په اړه د کابل ولايت استيناف محکمې څخه معلومات وغوښتل شوه، نوموړې محکمې د مکتوب نمبر(۹۱۰۲) مورخ ۱٤٤۳/۷/۲۸ هـ ق په توسط معلومات راليږلي چې معلومات د عالي شورا په مجلس مورخ۱۴۴۳/۱۰/۱۸ هـ ق کې مطرح شول او د تصويب نمبر(۵۲)په اساس عالي شورا داسې هدايت وکړ:

((د دغه موضوع د پوره تحقيق لپاره دې د راتلونکي يکشنبې په ورځ مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۲۲هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د جوزا د مياشتې د لومړۍ نېټې سره سمون خوري محترم شيخ محمد قاسم صاحب، محترم شيخ عبدالمالک صاحب، محترم شيخ محمد شريف صاحب او محترم مفتي عبدالرشيد سعيد صاحب، د کابل ولايت استيناف محکمې ته او د هغه څخه وروسته مخزن ته دې ورشي د مثنی ورکولو په باره کې دې تفصيلي معلومات واخلي او له ځان سره دې وليکي تر هغه وروسته به د عالي شورا په مجلس کې خبره پر وکړو.))

د پورته ذکر شوي هدايت مطابق فوق الذکر هيئت د کابل ولايت استيناف محکمې ته او د هغه څخه وروسته مخزن ته ورغلی د مثنی ورکولو په باره کې تفصيلي شفاهي او تحريري معلومات راټول کړي له هغه وروسته موضوع د عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۲۹ هـ ق کې مطرح شوه او د تصويب نمبر(۵۶)په اساس عالي شورا داسې هدايت وکړ:

((د مثنی اخيستلو مقرره دې د سترې محکمې د قضائي معاون محترم شيخ محمد قاسم صاحب په مشرۍ، مفتي حزب الله «ابراهيمي» صاحب، د تعليمات قضائي رياست عضو قاضي مدثر صاحب، د سترې محکمې د مدني ديوان څخه يو نفر، مفتي عبدالرشيد «سعيد» صاحب او د کابل ولايت د استيناف محکمې د مخزن آمر حبيب الرحمن «قريشي» ته وسپارل شي.))

د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي هداياتو مطابق، د مثنی اخيستلو مقرره په (۱۶) مادو کې ترتيب او د عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۳/۱۱/۲۹ هـ ق کې مطرح شوه چې د تصويب نمبر(۵۹) مورخ ۱۴۴۳/۱۱/۲۹ هـ ق په توسط، عالي شورا داسې هدايت وکړ:

((د مثنی اخيستلو مقرره په (۱۶) مادو کې تصويب شوه دارالانشاء عمومي رياست دې ټولو محکمو ته په متحدالمآل شکل واستوي.))

بناءً د مثنی اخيستلو مقرره چې د عالي شورا د پورته ذکر شوي تصويب په اساس تائيد شوې، د دې متحدالمآل مل په(۲)ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت تميزونو، ديوانونو مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

**د متحدالمآل ګڼه: ۲**

**نېټه: ۱۴۴۴/۱/۱۰ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د سترې محکمې عالي شورا مجلس مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هـ ق ته، د دارالانشاء عمومي رياست پيشنهاد وړاندې کړی و چې متن د پيشنهاد داسې دی:

((د دغه څلور قسمه موضوعاتو په باره کې مخکې و ټولو محاکمو ته هدايت شوی و، چې هرې محکمې يا د تميز عالي رياست ته که يوه موضوع د دغسې موضوعاتو راشي حق د اوليت به ورکوي، دغه موضوعات به تر نورو موجوده موضوعاتو مخکې فارغوي:

پاتې برخه ۴

### عصري زده کړې

### پنځمه او وروستۍ برخه

په عصري زده کړو کې ډېر خطر د شاګردانو د چاپيريال د فساد له امله دی، ځکه په ښوونځي کې د دوی مجلسونه د فسق او ګمراهۍ ناستې وي او دا څرګنده خبره ده، چې هر مجلس ځان لره ځانګړې اغېز لري او د هم مجلسه ملګري اخلاق پر انسان اغېز کوي.

او په همدې اړه ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله صلي الله عليه وسلم دا حديث روايت کړی دی:» هر سړی د خپل ملګري په دين او تګلاره دی، نو تاسو هر يو وګورئ چې څوک مو ملګری کړی دی؟». [رواه ترمذي، حديث شمېره ۲۳۷۸]

او همدارنګه د ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل:» بېله مؤمن څخه د بل چا سره ملګرتيا مه کوه او ستا ډوډۍ دې هم يواځې متقي سړی وخوري. [رواه ابو داود، حديث شمېره ۴۸۳۲]

او دا تجربې ثابته کړې ده، چې طبيعتونهداسې يو د بل خويونه اخلي چې بيخي به د سړي فکر ورته نه وي، نو په ښوونځيو کې بايد د زده کوونکو چاپيريال ته پوره پاملرنه وشي او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر څخه دې کار واخيستل شي او د ښوونکو په انتخاب کې هم بايد غور وشي، چې د صحيح عقيدې او عمل څښتنان وي او په اسلامي عقيدې او علومو پوه وي.

اخذليک: الإمارة الإسلامية و نظامها، صفحه ۲۴۷/ تأليف: قاضي القضات شيخ الحديث عبد الحکيم حقاني صاحب/ ژباړن: مولوي عبد الرحيم راشد

## جلسهٔ همآهنگی با ریاست آراضی و اعضای مسلکی قضایای امارت در محکمهٔ مرافعه کابل تدویر یافت

جلسهٔ همآهنگی با ریاست آراضی و اعضای مسلکی قضایای امارت در محکمهٔ مرافعه کابل تدویر یافت.

به تاریخ ١٤٤٤/١/٩ هـ ق در دفتر مقام ریاست محکمهٔ مرافعهٔ کابل پیرامون تغیرات که اخیراً در تشکیلات محاکم صورت گرفته‌است و در آن دیوان‌های که قبلاً به قضایای امارت رسیده‌گی می‌نمودند فعلاً صلاحیت رسیده‌گی آنها به دیوان های دیگری محول شده‌است جلسه برگزار گردید.

در این جلسه مولوی عبدالغفار(رحمانی) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه ولایت کابل، رؤسای زون‌های چهارگانه محاکم ابتدائیه ولایت و اعضای مسلکی ریاست قضایای امارت حضور داشته‌اند.

از اینکه قبلاً تشکیلات و صلاحیت‌های رسیده‌گی به دوسیه‌ها توسط محاکم و دیوان‌ها، به ریاست قضایای امارت تسلیم داده شده بود؛ بناً نخست برای ایشان وقت داده شد تا در مورد مشکلات که با آن برخورده‌اند یا برخواهند خورد مطرح نمایند.

ابتداً عطاالله (بارکزی) عضو مسلکی ریاست قضایای امارت گفت، اینکه قبلاً به دوسیه‌های قضایای امارت در دیوان حقوق عامه و جرایم سنگین رسیده‌گی می‌شد و درتشکیل جدید صلاحیت رسیده‌گی به دوسیه‌های قضایای امارت به دیوان امنیت عامه محول گردیده‌است و دوسیه های قضایای امارت فعلاً نیز در دیوان حقوق عامه موجود می‌باشد و زمانی زیادی گذشته که به آنها رسیده‌گی صورت نگرفته است، از مقام ریاست محکمه مرافعه طلب هدایت و خواهان یک تقسیم اوقات منظم از سوی محاکم برای رسیده‌گی به دوسیه قضایای امارت گردید.

بعدا محبوب الله (بشردوست) عضو مسلکی ریاست قضایای امارت خواهان حمایت محاکم در اقامهٔ دعاوی علیه زورمندان گردید.

در ادامه رئیس محکمهٔ مرافعه و رؤسای محاکم زون‌های چهارگانهٔ شهرکابل وعده سپردند که در راستای رسیده‌گی به موقع به دوسیه‌های قضایای امارت، انتقال رسمی دوسیه‌ها از دیوان‌های حقوق عامه به دیوان‌های امنیت عامه و ترتیب تقسیم اوقات برای رسیده‌گی به دوسیه‌های مذکور همکاری همه جانبه خواهند نمود.

برای اعضای مسلکی ریاست قضایای امارت تفهیم نمودند، طوریکه در صلاحیت‌های رسیده‌گی دیوان‌ها به قضایا، قضایای غصب مطلقاً تحت سلطه دیوان مدنی قرار گرفته است؛ بناً پس از این تمام دوسیه‌های که موضوع آن غصب املاک امارت یا املاک شخصی باشد را دیوان مذکور رسیده‌گی خواهند نمود.

جلسه با توسط یکی از رؤسای محاکم زون‌های چهارگانه با دعائیه به پایان رسید.

## گزارش جلسهٔ اداری ریاست محکمهٔ مرافعهٔ بادغیس

به تاریخ ١٤٤٤/١/٥ درصالون برگزاری جلسات ریاست محکمهٔ مرافعه تحت ریاست مولوی عبدالخالق (محمدی) رئیس محکمهٔ مرافعه و به اشتراک منسوبین قضائی و اداری ریاست محکمه ابتدائیهٔ شهری جلسه اداری تدویر یافت.

جلسه با تلاوت چند آیت از کلام الله مجید توسط مولوی شراف الدین رئیس دیوان جزاء آغاز یافت؛ سپس مولوی عبدالخالق (محمدی) رئیس محکمهٔ مرافعه حاضرین را خوش آمدید و خیر مقدم گفت، روی آجندای ذیل صحبت نمود.

✓ طبق آیت متبرکهٔ قرآن پاک اطاعت از اوامر الهی و اولی الامر خویش به وجه احسن وظایف خویش انجام دهید که الحمدلله همه منسوبین از علمای متدین و جید می‌باشند.

✓ به منظور تنفیذ احکام شریعت غرای محمدی (صلی الله علیه ولسلام) مجاهدین امارت اسلامی افغانستان مدت بیست سال علیه فساد جهاد نموده‌اند، باید که به نظام امارت اسلامی صادقانه خدمت گردد و از خیانت جلوگیری به عمل آید.

✓ پابندی به حاضری که یک اصل است طبق هدایت و اصول از حوالی ساعت ۸:۰۰ صبح الی ٤ عصر رسمیات می‌باشد، باید خانه حاضری صبح در شروع رسمیات امضاء شود و خانه حاضری عصر در اخیر وقت امضاء گردد؛ کوشش شود در اوقات رسمیات خارج شدن از محکمه اجتناب گردد.

✓ به دواوین و محاکم سه نفر قضات توظیف اند؛ باید تمام اجراآت شان به مشوره یک دیگر صورت گیرد تا در اجراآت یومیهٔ شان سکتگی رخ نگردد.

✓ از اینکه وظایف قضات وظیفهٔ مقدس و خطیر می‌باشد باید به منظور جلوگیری از تهمت اشخاص مغرض از هرنوع تماس‌های تلیفونی و مجالس مشوره دهی با اصحاب دعاوی جداً اجتناب گردد.

جلسه توسط مولوی شراف الدین رئیس دیوان جزاء با دعائیه خاتمه یافت.

## جلسهٔ اداری محکمهٔ مرافعه ولایت تخار دایر گردید

به تاریخ ١ محرم الحرام ١٤٤٤ هـ ق تحت ریاست مولوی محمد صابر (حنفی) رئیس محکمهٔ مرافعه با اشتراک رؤسای دواوین استیناف، رئیس محکمهٔ شهری، رؤسای دواوین ابتدائیه، آمریت وثایق و عموم منسوبین محترم قضائی و اداری به منظور همآهنگی، اجراآت سالم و سرعت بخشیدن امور قضائی و اداری جلسهٔ اداری ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت تخار دایر گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت آیاتی چند از کلام الله مجید آغاز شد؛ سپس رئیس محکمهٔ مرافعه تشریف آوری و اشتراک هیئت قضائی و اداری را در جلسهٔ اداری خوش آمدید گفته برگزاری جلسات اداری را غرض بهبود امور مثبت و ارزشمند دانست و پیرامون موضوعات و چالش‌ها صحبت مفصل و همه جانبه نمود.

موصوف همچنان از رؤسای دیوان‌های استیناف و ابتدائیه راجع به این که درسال ١٤٤٣ هجری قمری چه تعداد دوسیه ها را بررسی نموده اند معلومات اخذ و هدایات و رهنمائی لازم نمود.

علاوه بر آن رئیس محکمهٔ استیناف ولایت تخار به عملی نمودن موارد ذیل تأکید نمود:

١. نسبت این که سال ١٤٤٣ هـ ق خاتمه یافته طبق هدایت مکتوب رسمی مقام عالی ستره محکمه تمام اجراآت و مراسلات اداری خویش را مطابق سال قمری تنظیم و عیار نمائید و به مکاتیب جواب طلب که از مقامات ستره محکمه مواصلت می ورزد اولویت داده فوراً جواب قناعت بخش ارائه گردد.

٢. عریضه‌های که از طرف مقام عالی ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان مواصلت ورزیده و از طریق ریاست مرافعه به محاکم و دیوان‌های مربوطه محول میگردد، درج وارده نموده اجراآت به موقع صورت گیرد و راپورهای اجراآت خویش را در همه ابعاد به وقت معین بدون قلم خورده‌گی ارسال بدارید.

٣. دوسیه‌های وارده را بادرنظرداشت تاریخ وارده و رعایت نوبت بررسی همه جانبه نموده، طبق احکام شریعت اسلامی و اصول امارت حل و فصل شرعی گردد، از فساد اداری جداً جلوگیری و جلو افراد مفسد و فرصت طلب در هر حالت گرفته شود، چون نظام جامعه بر عدل استوار است بناءً با عزم راسخ و ارادهٔ قوی در مورد رسیده‌گی به قضایا عدالت تأمین شود.

در اخیر محترم مولوی محمد یوسف رئیس محکمهٔ شهری آن ولایت پیرامون موضوع صحبت نموده چالش‌های موجوده را مطرح و برای حل آن تصامیم لازم اتخاذ گردید و جلسه با دعائیه خیر فلاح و صلح دایمی درکشور خاتمه یافت.

## په زابل ولایت کې پنځو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د روان ١٤٤٤ هـ ق کال د محرم الحرام میاشتې په ۹ مه نېټه په لمړي ځل مرکز قلات کې د زابل ولایت شهري محکمې د جزاء دیوان لخوا پنځو مجرمینو ته چې نارینه او ښځې په کې شامل وو تعزیري سزا ورکړل شوه.

یادو مجرمینو ته د تعزیري سزا ورکولو په موخه جوړ شوي پروګرام کې د زابل ولایت ولایتي مسوولینو، علماء کرامو او زرګونو عامو وګړو ګډون کړی وو.

پروګرام د قرانکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شو؛ ورپسې د زابل ولایت امنیه قوماندان ایوب اخندزاده د موضوع اړوند هر اړخیزې خبرې وکړې وویل، که چیرې په راتلونکي کې هر څوک د داسې جرم او یا دې ته ورته نورو جرمونو مرتکب کیږي موږ به یې نیسو او محاکمو ته به یې سپارو تر څو په خپله سزا ورسیږي .

نوموړي د خپلو خبرو په پای کې د پروګرام ټولو ګډونوالو ته ډاډ ورکړ چې زموږ محاکم په پوره عدل او انصاف سره فیصلې کوي، په هره موضوع کې نهایي کوښښ کوي، د اړوندې موضوع په تړوا پوره معلومات کوي او له هغه وروسته پرېکړه کوي.

ورپسې د زابل ولایت مرستیال والي سلیمان آغا بهیر خبرې وکړې او د محکمې داکړنه یې د ټولنې د امنیت د تامین او اصلاح لپاره لازمه وبلله.

نوموړي په خپلو خبرو کې زیاته کړه، موږ او تاسو باید د الله جل جلاله د احکامو په پلي کولو ناراضه نه بلکې خوشحاله شو، موږ او تاسو پوره شل کاله د اسلامي نظام د راتګ او الهي احکامو د تطبیق لپاره داسې قرباني ورکړې چې نړیوال ټول ورته حیران دي، دهمدې قربانیو نتیجه وه چې الحمدلله موږ او تاسو ته الله جل جلاله یوه ستره فتحه رانصیب او اسلامي نظام حاکم شو.

ورپسې یادو پنځو مجرمینو ته تعزیرات ورکړل شول چې د غلا او زنا په تور نیول شوي وو، د مجرمینو له ډلې درې تنه نارینه وو چې یو یې د زنا په تور او دوه تنه د غلا په تور نیول شوي وو، دوې ښځې وې چې یوه یې د زنا په تور او بله د زاني او زانیې تر منځ د رابطې په تور نیول شوې وه.

د دغه ولایت د ښاري محکمې د رئیس مولوي فضلي صاحب په وینا دغه مجرمین څه موده مخکې نیول شوي وو چې له څېړنو وروسته نن تعزیر شول.

د مجرمینو له ډلې یو نارینه چې د زنا په تور نیول شوی و د (۳۹) نهه دیرش درې وهلو سربېره په شپږ کاله حبس محکوم شو؛ یو تن چې د غلا په تور نیول شوی و د (۱۵) پنځلس درې وهلو سربېره په یوه میاشت حبس محکوم شو، پاتې یو تن نارینه چې د غلا په تور نیول شوی و د (۲۰) درو په وهلو سره تعزیر شو، یوه ښځه چې د زنا په تور نیول شوې وه د (۳۹) نهه دیرش درو په وهلو سربېره پر دوه کاله حبس محکومه شوه، دوهمه ښځه چې د زاني او زانیې تر منځ د رابطې په تور نیول شوې وه شل درې ووهل شوه او په شپږ کاله حبس سره محکومه شوه.

د غونډې په پای کې د زابل ولایت د مرافعه محکمې رئیس شیخ نقیب الله اخندزاده ټولو ګډونوالو ته اطمینان ورکړ چې د زابل ولایت په سطحه ټول محاکم کوښښ کوي چې په هره موضوع کې پوره دقت او تحقیق وکړي، معلومات ترلاسه کړي او وروسته فیصله وکړي.

نوموړي زیاته کړه، موږ به هر مجرم ته که شتمن وي او یا هم غریب ، د اسلامي امارت له مسوولینو او اشخاصو څخه وي او یا هم عامو اشخاصو څخه وي، لوړ رتبه وي او یا هم ټیټ رتبه بیله کوم توپیر څخه د الهي احکامو په رڼا کې به فیصله ورباندې صادرېږي او تطبیق کیږي.

د استیناف محکمې رئیس د خپلو خبرو په پای کې ټولو ګډونوالو ته وویل، که له هر چا سره د زابل ولایت په مرافعه، شهري او ابتدائیه محاکمو کې توپیري چلند شوی وي او یا هم بل کوم شکایت له محاکمولرئ نو تاسو په پوره ډاډ او اطمینان سره کولای شی چې شکایت یې تر موږ پورې را ورسوی تر څو یې موږ په حل کولوکې پوره کوښښ وکړو.

مجرمینو ته د تعزیري سزا ورکولو په مناسبت جوړ شوی یاد پروګرام د دعا په کولو سره پای ته ورسېده.

## بازدید رئیس محکمه مرافعه ولایت کاپیسا از محبس عمومی آن ولایت

مولوی میر آقا مشهور به ذبیح الله «خالد» رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کاپیسا همراه با هیئت مؤظف قوماندانی امنیه و استخبارات آن ولایت مولوی سید احمد آمرکشف جرایم جنائی، مولوی وسیع الله سرمستنطق و مولوی عادل «فیضانی» مدیر تحقیقات و نمایندهٔ ریاست استخبارات از محبس عمومی آن ولایت بازدید به عمل آورد.

این بازدید در حالی صورت میگیرد که ذریعه مکتوب نمبر ( ۱۳۶۱/ ۹۳۳ ) مورخ ١٤٤٣/١٢/١ هجری قمری با التصاق چهار ورق در مورد سرنوشت زندانیان ومحبوسین مصادره مقام عالی ستره محکمه به ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کاپیسا مواصلت ورزیده بود.

به همین جهت غرض بررسی سرنوشت محبوسین، رئیس محکمهٔ مرافعه همراه با هیئت مؤظف قوماندانی و استخبارات به محبس عمومی آن ولایت سفر نمود تا زندانیان را از نزدیک ملاقات و مشکلات شان را استماع و به آن رسیده‌گی نماید.

در این بازدید نخست رئیس مرافعه حدود یک ساعت به محبوسین سخنرانی کرد و در مورد این که زندان چیست و چرا مجرمین در زندان به سر می‌برند از زاویه های مختلف برای محبوسین بیان نمود.

بعد از آن مشکلات زندانیان را استماع نمود و به آنعده از زندانیان که در بی سرنوشتی قرار داشتند وعده داد هرچه زودتر در مورد آنها طبق رهنمود امارت اسلامی تصمیم گیری خواهیم کرد.

همچنان اشخاصی که شکایت داشتند و دوسیه‌های شان در محاکم استیناف، شهری و ابتدائیه و یا در څارنوالی مربوطه معطل و یا زمانی مدیدی را گذشتانده اند نیز اطمینان داده شد که در هر مرحلهٔ که دوسیه های شما در جریان است هدایت داده میشود که به پرونده محبوسین سرعت بخشند و تعلل نکنند.

قابل یادآوری است که در محبس عمومی کاپیسا مجموعاً از طبقه اناث و ذکور (٦٦) زندانی وجود دارند که از میان آنها سه تن آن از طبقه اناث است.

رئیس مرافعه سه تن از زندانیان را بعد از سپری نمودن مدت حبس معین مطابق ماده ۸ که تصریح می دارد (هغه بندی چی د محاکمو له لوری په قطعی توګه د سزا مستحق ګڼل شوی وي له ټاکل شوي سزا وروسته دې خوشي شي) آزاد نمودند و به مسئولین زندان گفت که محبسوسین که مدت حبس شان به اتمام می‌رسد و یا مجرم که به جزای مجرمیت خویش میرسند دیگر نباید بعد از آن در محبس بندی باشند؛ فوراً باید آزاد شوند.

## د پکتیا ولایت د استیناف محکمې رئیس د دغه ولایت د ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو له رئیسانو سره وکتل

د ۱٤٤٤ هجري قمري کال د لومړی میاشتې په دویمه نېټه د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس الحاج مفتي عبیدالله (خالد) د پکتیا ولایت د ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو له رئیسانو سره په خپل کاري دفترکې لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې رئیس درنو قضاتو ته تر هرکلي وروسته وویل، د مراجعینو (مدعي او مدعي علیه) سره د اصولو پر بناء قانوني او عادلانه چلند وکړئ، د محاکمو د مراجعینو سره د ملاقات طرزالعمل ترتیب کړئ ترڅو د مراجعینو ستونزې په خپل وخت سره حل شي.

مفتي خالد د ابتدائیه محکمې پرېکړه د لوړو محاکمو لپاره بنیاد وباله او درنو قضاتو ته یې سپارښتنه وکړه چې د دعوی د اړخونو صورت د دعوی، دفع د دعوی او د دوسیې اوراق په دقیق ډول ولولي اوهره دوسیه په دقیق ډول وڅېړي.

نوموړي په دعوی کې د شواهدو او اسنادو په رابطه خبرې وکړې او د محبوسینو د دوسیو په اړوند یې قضاتو ته لازمي مشورې ورکړې، ټینګار یې وکړ چې د محبوسینو دوسیې ژر تر ژره وڅېړل شي.

محترم مفتي خالد یادونه وکړه چې د خپلو ترسره کړو فعالیتونو ربعوار راپورونه، د قضایاو د ثبت راپورونه، د سترې محکمې د عالي مقام متحدالمآلونه او د مرافعه محکمې مکتوبونو او احکامو ته په دقیق ډول نظر وکړئ، په ټاکلي وخت مرافعه ریاست په جریان کې واچوئ او راپورونه مو په ښه ډول راوستوی ترڅو اطاعت پر ځای او د مراجعینو ستونزې په خپل وخت سره حل شي.

نوموړي د ناستې ګډونوالو ته وویل چې د ولسوالیو له نورو چارواکو سره نیک برخورد وکړئ، ترڅو د اسلامي امارت نظام قوي او متحد پاتې شي.

د ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو رئیسانو د مرافعه محکمې له رئیس سره ژمنه وکړه چې ان شاءالله ستاسو ټولو خبرو او سپارښتنې به عملي کوو او خپل قضائي امور به په صداقت او ریښتینولی سره ترسره کوو. په غونډه کې د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې رئیس مولوي محمداجان (رهبر) او د احمدپا ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې رئیس مولوي محمد انور (نذیر) خبرې وکړې.

## بازدید از اجراآت محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های محکمهٔ استیناف ولایت هرات

به تاریخ های ۵ـ٦ و ۱٤٤٤/۱/۸ مولوی عبدالله قادری رئیس عمومی محکمهٔ استیناف هرات با همراهی مفتی عبدالمنان مهاجر رئیس دیوان امنیت عامهٔ مرافعه غرض نظارت و بررسی امورات قضائی و اداری و رفع نیازمندی ها به محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی گذره و محکمه ابتدائیهٔ ولسوالی کرخ و محکمه ابتدائیه ولسوالی زنده جان ولایت سفر نمود. آنها در جریان این سفر از تماماً اجراآت قضائی و اداری محاکم بررسی و ارزیابی به عمل آورد که در ضمن نحوه اجراآت محاکم به اصول و مقررات در چوکات غرای محمدی استوار بوده؛ اظهار سپاس و قدردانی نمود.

سپس رئیس موصوف در ختم بازدید برای پرسونل قضائی و اداری محاکم هدایت نمود که در اوقات رسمی بالای وظایف محوله خویش حاضر باشند و بامراجعین برخورد نیک و خوب داشته باشند، سعی و تلاش نمایند تا به مشکلات خلق الله طبق مقررات شرعی و اصولی اجراآت صورت گیرد و سکته گی در اجراآت قضائی و اداری ایجاد نشود و اجراآت قضائی و اداری محاکم را از امروز به فردا نگذارند.

رئیس استیناف همچنان قضات را با مسئولیت‌های خویش متوجه ساخته اند و در رابطه به پیشنهادات محاکم تفصیلی صحبت نمود، عنوانی مراجع مربوطه هدایت لازم داد.

باید گفت که پرسونل قضائی و اداری محاکم ابتدائیه از بازدید و توصیه‌های عالمانهٔ رئیس استیناف اظهار سپاس و قدردانی نموده‌اند.

## جلسهٔ هماهنگی عدلی و قضائی محکمهٔ استیناف ولایت سمنگان

به تاریخ ۱٤٤٤/۱/۵ هجری قمری تحت ریاست الحاج مولوی سعدالدین (سعید) رئیس محکمهٔ استیناف ولایت سمنگان با اشتراک رؤسای دواوین استیناف رئیس محکمهٔ ابتدائیه شهری، رئیس څارنوالی استیناف، رئیس استخبارات، رئیس عدلیه، نمایندهٔ قوماندانی امنیه، آمر امنیه، مدیر جنائی، مدیر محبس و آمریت حوزه اول امنیتی در مقر ریاست محکمهٔ استیناف ولایت جلسهٔ هماهنگی عدلی و قضائی دایر گردید .

جلسه با تلاوت آیات کلام الله مجید آغاز شد؛ سپس رئیس محکمهٔ استیناف ضمن خوش آمدید به اشتراک کننده‌گان، تدویر جلسات هماهنگی راغرض رفع چالش‌ها، مشکلات و اجرای امور خلق الله طبق شریعت و اصول موثر و مثبت دانست.

علاوه بر آن رئیس محکمهٔ استیناف روی موضوعات شامل اجندا صحبت و نصیحت‌های همه جانبه نمود، از مسئولین حاضر جلسه تقاضا به عمل آورد تا در اجرای وظایف و پیشبرد به موقع امور خلق الله با کمال صداقت و ایمانداری، صبر و استقامت بدون از تعصب و احساسات، در هماهنگی عمل نمایند تا عدالت طبق هدایت و دستورالله (جل جلاله) و پیامبرش (صلی الله علیه وسلم) به وجه احسن در جامعه تأمین گردد.

متعاقباً رئیس محکمهٔ شهری ایبک با ابراز سپاس و تشکری از تدویر جلسه هماهنگی عدلی و قضائی روی استقلالیت قضاء، مشکلات موجود وعدم هماهنگی ادارات صحبت همه جانبه نمود.

در ادامه رئیس څارنوالی استیناف در رابطه به روند سریع دوسیه جات متهمین و اجراآت خودسرانه و غیرقانونی ارگان‌های کشفی امنیتی صحبت نموده، و نیز رؤسای دواوین استیناف محکمهٔ ابتدائیه و رؤسای ادارات بالنوبه پیرامون چالش‌ها و مشکلات موجود در محیط کاری شان صحبت نمود، نظریات و پیشنهادات خویش را در مورد رفع مشکلات و چالش‌ها ابراز داشته‌اند.

در اخیر پیشنهادات و نظریات مطروحه توسط رئیس محکمه جمع بندی و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

جلسه با دعائیه خیر و فلاح خاتمه یافت.

## جلسهٔ اداری محکمهٔ استیناف ولایت سرپل تدویر یافت

به تاریخ ۵ محرم الحرام ۱۴۴۴ هجری قمری تحت ریاست مولوي یارمحمد «عمري» رئیس محکمهٔ مرافعه با اشتراک تمام قضات محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها، قضات دواوین محکمهٔ شهری و محکمهٔ مرافعه در دفتر ریاست محکمهٔ مرافعه جلسهٔ اداری محکمهٔ استیناف ولایت سرپل تدویر یافت.

ابتداء جلسه با تلاوت آیاتی چند از کلام الله مجید آغاز شد؛ سپس رئیس محکمهٔ مرافعه بیان کرد که الله متعال را سپاس گذار هستیم که این نعمت بزرگ خدمت به نظام اسلامي را که در بدل خون شهداء به حاکمیت رسیده است، برای ما و شما عطا نموده است.

وی افزود باید همه ای ما قدر این نعمت بزرگ را بدانیم؛ همهٔ شما علماء هستید و ضرور نیست که همه چیز را من برای تان بگویم؛ ولی از دیدگاه کارهای اداری یک مقدار تأکیدات دارم، ضرورت است که تصریح کنم.

۱. رعایت اوقات رسمی کار برای همه اعم از قضات و کارمندان اداری بدون استثناء واجب است البته ضروریات مبرم از جمله مستثنی میباشد، راپور حاضری تان همیشه در روزهای پانزدهم ماه ترتیب و به شعبه مربوط رسانیده شود و محکمه های ابتدائیه ولسوالی‌ها وثایق را به دقت کامل ترتیب نماید؛ به خاطری که وثایق از جمله سندهای معتبر محاکم می‌باشند. البته تنها نکاح خط را در صورت ضرورت مبرم متقاضی و نبودن نکاح خط، به ریاست محکمهٔ مرافعهٔ معرفی کنید که ما آن را اجراء خواهیم کرد.

۲. جدول مراتب مرافعه طلبی به شکل بهتر ترتیب داده شود؛ بعداً با ضمیمهٔ مکتوب مرافعه طلبی دوسیه را با رعایت شرایط به دیوان مربوطه مرافعه فرستاده شود، محبوسین جزائی که در توقیف خانه‌های قوماندانی ولسوالی‌ها موجود هستند در صورت عدم برائت به دوسیه‌های شان به زودی رسیده‌گی شده یک جا با دوسیه‌های شان در زندان مرکزی فرستاده شوند و همیشه توصیه شود که افراد ماتحت اعم از کارمندان اداری و محافظین، اخلاق خود را در برابر نظام و مردم در چهارچوب اسلام عیار نمایند.

۳. فیصله‌های بعد از نقض به خوبی اصلاح شود؛ به صورت واضح پاسخ‌های موارد نقض ارائه گردد، وکالت خط ها در صورت عدم حضور موکل از طریق تلیفون یا آنلاین که درشماره اول جریده میزان نیز منع شده است به هیچ وجه ترتیب داده نشود و برای هیچ کدام ما اجازه نیست که برای یک مجرم وساطت کنیم.

در ادامه به صورت عمومی قضات محترم دواوین محکمهٔ مرافعه و شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها، در مورد مشکلات که فرا راه کارهای قضائی و اداری شان موجود بود ابراز داشته پاسخ‌ها و هدایات لازم را به مشوره مشترکین جلسه و رهنمایی اصولنامه اداری و حقوقی از طرف رئیس محکمه و بعضی از رؤسای دواوین دریافت نمودند و جلسه با دعائیه خیر خاتمه یافت.

## د ننګرهار د مرافعه محکمې په تالارکې د بندیانو د دوسیو د پر وخت څېړلو په موخه ناسته ترسره شوه

په ۱۴۴۴/۱/۱۱ هجري قمري نېټه د ننګرهار ولایت د مرافعه محکمې په تالارکې د دې محکمې د رئیس شیخ الحدیث محمدګلاب (فاروقي) په مشرۍ د بندیانو دوسیو ته د ژر رسېدنې په موخه ناسته ترسره شوه.

یاده ناسته د قرانکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه، وروسته د مرافعه محکمې رئیس شیخ الحدیث محمدګلاب «فاروقي» غونډې ته ویناوکړه او د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست ۲ نمبر مکتوب ۱۰/۱/۱۴۴۴ متحدالمآل په اړه یې مسوولینو ته سپارښتنې وکړې، چې جزائي او د بندیانو موضوعاتو ته به د نورو موضوعاتو په پرتله لومړیتوب ورکوي.

په غونډه کې د استیناف محکمې عمومي رئیس شیخ محمدګلاب (فاروقي)، د شهري محکمې رئیس مولوي امان الله (حقاني)، د استیناف څارنوالۍ معاون مفتي محمد عمران، د امنیه قومندانۍ جنایي مدیر مولوي منصور، د زندانونو د چارو رئیس بلال شاهین، د استخباراتو څارنوالۍ نماینده او د استیناف او ښهري محکمو د جزائي دېوانونو رئیسانو ګډون کړی و.

په دې غونډه کې د امیرالمؤمنین حفظه الله د ۱۷ ماده یي فرمان چې په ۹ او ۱۲ مادوکې یې د بندیانو په اړه یادونه کړې وه، د تطبیق په اړه لازم تصامیم ونیول شول.

دغه راز د مرافعه محکمې، څارنوالۍ او د محبس له استازو څخه جوړ شوي ګډ پلاوي ته دنده وسپارل شوه چې هره اونۍ کې دې یو ځل د عمومي محبس څخه لیدنه وکړي تر څو کوم بندي بې برخلیکه پاتې نشي.

غونډه د مرافعه محکمې د نظامي منسوبیو دیوان د رئیس شیخ محمدګل (وهاج) په دعائیه پای ته ورسېده.

## توحید گزارش راپور دوسیه جات وثایق ریاست محکمه مرافعه ولایت بلخ از تاریخ ۱٤٤٤/۱/۱ الی ۱٤٤٤/۱/۸

اجراآت دواوین مرافعه ، وثایق ، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمه نظامی زون شمال و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها از تاریخ ۱٤٤٤/۱/۱ الی ۱٤٤٤/۱/۸ هجری قمری به شرح ذیل است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک هفته به تعداد( ۱٤۰)دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً (۱۹٦۳) دوسیه تحت دوران قرارداشت که مجموعاً (۲۱۰۳) دوسیه میشود. از آن جمله (٦٤ ) دوسیه مکتوبی(۱۵) دوسیه قرار قضائی و (۱۷) دوسیه فیصله اجراآت گردیده و (۲۰۰۷) دوسیه تحت کار میباشد .

**در بخش جزائی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۵۲) دوسیه وارده محاکم گردیده در حالی که قبلاً (۳۰۱) دوسیه تحت دوران قرارداشت که مجموعاً (۳۵۳) دوسیه میشود. از آن جمله(۲) دوسیه مکتوبی (٤) دوسیه قرار قضائی (۲۱) دوسیه فیصله اجراآت گردیده و (۳۲٦) دوسیه تحت کار میباشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۱۸) دوسیه وارده در دیوان های مربوطه وارد گردید درحالی که (۲٤۳) دوسیه قبلاً تحت دوران قرار دارد که مجموعاً (۲٦۱) دوسیه میشود. که از آن جمله (۱۱) دوسیه مکتوبی (۸) دوسیه قرار قضائی (٤) دوسیه فیصله (۲۳۸)دوسیه تحت کار میباشد.

و همچنان به تعداد (۱۰۳) قطعه وثایق مختلف النوع اجرا گردید و طبق فرمان امارت اسلامی افغانستان قیمت اخذ نگردید.

سرپرست مسوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه ځرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د سترې محکمې متحدالمآلونه...

### د متحدالمآل ګڼه: ۲

اول: د احتساب د محکمې موضوعات به تر نورو موضوعاتو مخکې خلاصوي.

دوهم: جزائي موضوعات به تر نورو موضوعاتو مخکې خلاصوي.

دریم: د بندي موضوع به تر نورو موضوعاتو مخکې خلاصوي.

څلورم: هغه موضوع چې د اصلاح د نقصاناتو په خاطر ابتدائیې یا مرافعې ته واستول شوه تر نورو موضوعاتو مخکې به یې خلاصوي.)

پورته ذکر شوی متن د اسلامي امارت د محاکمو عالي اداري لخوا د مکتوب نمبر (۲۲۶ج۴) مورخ ۱۴۴۱/۱۲/۲۵هـ ق په ذریعه د اسلامي امارت ټولو محکمو ته استول شوی و.

بناءً پورتنۍ موضوع ستاسو درانه مقام ته پیشنهاد شوه هغه څه چې ستاسو هدایت وي واجب التعمیل دي.))

د سترې محکمې عالي شورا، د دارالانشاء عمومي ریاست د پورته ذکر شوي پیشنهاد په باره کې د تصویب نمبر(۳۷) مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هـ ق په اساس داسې هدایت وکړ:

((دارالانشاء ریاست دې د پورته ذکر شوي مکتوب متن تمیزونو، دیوانونو او ټولو محاکمو ته په متحدالمآل شکل واستوي.))

بناءً د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصویب هدایت، د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو، دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ٤
### نیټه: ۱۴۴۴/۱/۱۳ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د سترې محکمې عالي شورا مجلس مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هـ ق ته، د دارالانشاء عمومي ریاست پیشنهاد وړاندې کړی و چې متن د پیشنهاد داسې دی:

((د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو عالي اداري لخوا مکتوب نمبر(۴۰۵) مورخ ۱۴۴۰/۱۰/۱۳هـ ق په لاندې توګه ټولو محکمو ته استول شوی و:

د اداري اصولنامې د څوارلسمې مادې وضاحت ځینې محکمو غوښتی و نو مناسب مو وبلل چې دغه وضاحت ټولو محکمو ته واستوو چې تفصیل د وضاحت یې په لاندې ډول دی:

(کومه صلحه چې ابتدائیه محکمې تائید کړه تر تائید وروسته که یو جانب قناعت نه درلودی دغه د یو جانب نه قناعت دوه صورتونه لري.

اول: که دغه غیر قانع جانب وویل چې دغه صلحه شرعي نه ده په دغه صورت کې دغه د ابتدائیې تائید شوې صلحه مرافعه او تمیز لري.

دوهم: که دغه غیر قانع جانب دغه خبره نه کوله چې دغه صلحه شرعي نه ده بلکه یواځې په دې وجه یې قناعت نه درلودی چې فیصله د ده په ګټه نه وه په دغه صورت کې بیا دغه د ابتدائیې تائید شوې صلحه مرافعه او تمیز نه لري.)

دا چې پورته تحریر شوی متن د افغانستان اسلامي امارت ټولو محکمو ته استول شوی و بناءً د دوهم ځل استولو په موخه ستاسو درانه او محترم مقام ته پیشنهاد شو هغه څه چې ستاسو هدایت وي واجب التعمیل دي.))

د پورته مکتوب په اړه عالي شورا د تصویب نمبر (۴۱) مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هـ ق په اساس داسې هدایت وکړ:

((دارالانشاء ریاست دې مذکور مکتوب په متحدالمآل ډول ټولو محکمو ته واستوي.))

بناءً د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصویب هدایت، د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ٦
### نیټه: ۱۴۴۴/۱/۲۲ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب (حفظه الله) د شفاهي هدایت مطابق د ریاست الوزراء محترم مقام د مکتوب نمبر (۳۱۴) مورخ ۱۴۴۳/۶/۱هـ ق په توسط، د امریکایانو په تېر اشغال کې د ورکو شوو افغانانو (چې د ژوند او مرګ یې هیڅ درک معلوم نه دی، ښځې یې بې سرنوشته پاتې دي همداسې د میراث مسائل یې دي) په باره کې د سترې محکمې څخه استهداء شوې وه.

د ریاست الوزراء محترم مقام پورته ذکر شوې استهداء ته د سترې محکمې د مقام لخوا جواب ولیکل شو بیا دغه استهداء او جواب دواړه د سترې محکمې ځینو محترمو شیوخو عظامو او مفتیانو کرامو ته واستول شو، د هغوی لخوا وکتل شو او تر کتلو وروسته یې د نوموړي استهداء جواب د دستخطونو په کولو سره تائید کړ، چې بیا وروسته د سترې محکمې د مقام د دفتر ریاست د مکتوب نمبر(۱۶۵) مورخ ۱۴۴۳/۶/۲۷هـ ق په توسط د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندې شو، د مشرتابه محترم عالي مقام، پورته ذکر شوی جواب (فتوی) د مرکزي دارالافتاء ریاست ته د نظر څرګندولو لپاره واستوله چې د مرکزي دارالافتاء ریاست په مجلس مورخ ۱۴۴۳/۷/۹هـ ق کې (د ریاست الوزراء محترم مقام ته د سترې محکمې جواب) تائید کړ او په اړه یې خپل نظر څرګند او د مکتوب نمبر (ش:۶۳ ، ص: ۱۳ ، ج:۱) مورخ ۱۲/رجب/۱۴۴۳هـ ق په توسط یې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندې کړ، د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم مورخ /رجب المرجب/۱۴۴۳هـ ق په اساس داسې هدایت وکړ:

((د سترې محکمې محترم مقام ته!

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته.

وبعد: ستاسو فتوی زموږ له خوا هم تائید ده دا کار دې د هرې سیمې و قاضي ته وسپارل شي د هرې ممکنې لارې دې معلومات وکړي بیا دې معلومات تاسو ته او تاسو یې موږ ته راولیږئ.))

پورته ذکر شوې فتوی د سترې محکمې عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هـ ق کې مطرح او د تصویب نمبر (۳۴) په اساس، عالي شورا داسې هدایت وکړ:

((د مفقودینو په باره کې چې کومه فتوی د مشرتابه محترم عالي مقام له تائید څخه وروسته رارسېدلې وه، هغه دې په متحدالمآل شکل ټولو محکمو ته واستول شي او د سترې محکمې د مطبوعاتو او عامه اړیکو لخوا دې هم نشر شي.

همدارنګه د ریاست الوزراء محترم مقام سره دې شریکه شي تر څو د دوی له طریقه، څرنګه چې یې لازم بولي نشر شي، هغه طریقه دې عملي شي چې د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا راغلې ده. ))

بناءً پورته ذکر شوې فتوی د دې متحدالمآل مل په(۷) ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو، دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې ترسره شي.

یادونه: د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د تېر شل کلن جهاد په دوران کې نادرکه شوي هیوادوالو په باره کې د فرمان نمبر (۱۵) مورخ ۱۴۴۴/۱/۱۰هـ ق په اساس محاکمو ته هدایت کړی چې ذکر شوی فرمان د دې متحدالمآل مل په (۲) ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو، دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د سترې محکمې پورته ذکر شوې فتوی او د مشرتابه محترم عالي مقام د مذکور فرمان مطابق شرعي او اصولي کړنې ترسره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۳
### نیټه: ۱۴۴۴/۱/۱۱ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د سترې محکمې عالي شورا مجلس مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هـ ق ته، د دارالانشاء عمومي ریاست پیشنهاد وړاندې کړی و چې متن د پیشنهاد داسې دی:

((د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو عالي اداري لخوا مکتوب نمبر (۱۹۹ج۴) مورخ ۱۴۴۱/۱۱/۲۹هـ ق په لاندې توګه ټولو محکمو ته استول شوی و:

(هرې محکمې ته چې کله رسمي مکتوب د واټساپ له لارې ورسیږي نو هغه محکمه به یاد مکتوب له واټساپ څخه راباسي فوټوکاپي به یې اخلي تر څو یې له ځان سره ثبت وارده او محفوظ کړي.

نو که مبایل یا واټساپ خراب، یا ورک شي د محکمې سره به خپل مربوط اسناد محفوظ پاته وي)

دا چې پورته تحریر شوی متن د افغانستان اسلامي امارت ټولو محاکمو ته خبر ورکول شوی و، بناءً د دوهم ځل استولو په موخه ستاسو درانه مقام ته پیشنهاد شو هغه څه چې ستاسو هدایت وي واجب التعمیل دي.))

چې په اړه یې عالي شورا د تصویب نمبر (۴۰) مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هـ ق په اساس داسې هدایت وکړ:

((دارالانشاء ریاست دې مذکور مکتوب په متحدالمآل ډول ټولو محکمو ته واستوي، البته د ټیلیګرام او رسمي ایمیل د لارې هم چې کوم مکتوب یا متحدالمآل کومې محکمې ته ورسیدی، هغه دې هم پرنټ او محفوظ کړي.))

بناءً د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصویب هدایت، د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۵
### نیټه: ۱۴۴۴/۱/۱۵ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د سترې محکمې عالي شورا مجلس مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هـ ق ته، د دارالانشاء عمومي ریاست پیشنهاد وړاندې کړی و چې متن د پیشنهاد داسې دی:

((اکثره محاکمو به پوښتنه کوله چې موضوع کوم وخت په جریان او کوم وخت په جریان کې نه ده د دې لپاره چې جریان او نه جریان واضح معلوم شي تفصیل یې په لاندې ډول دی:

((ځینې وختونه مدعي محکمې ته عارض شي محکمه د مدعی علیه د احضار لپاره جلب پاڼه ولیږي او مدعی علیه چې کله محکمې ته حاضر شي نو مخکې تر دې چې د محکمې لخوا د مدعي صورت دعوه پر مدعی علیه عرض کړل شي مدعي علیه ووایي چې زه تبدیل د محکمې غواړم.

یا د صورت دعوې تر عرضېدلو وروسته تر دفع مخکې ووایي چې زه تبدیل غواړم.

یا مدعی علیه محکمې ته بیخي حاضر نشي او د تمیز څخه د تبدیل غوښتنه وکړي.

په دغه درې سره صورتونو کې مدعی علیه تبدیل د محکمې غوښتلای شي او دغه جریان هغه جریان نه دی چې د تبدیل حق ساقطوي.

او که مدعی علیه تر دفع راوړلو وروسته ووایي چې زه تبدیل غواړم په دغه صورت کې موضوع په جریان کې بلل کیږي د تبدیل غوښتلو حق نه لري.

خو که جانب مقابل یې سره د جریانه په تبدیل راضي و په دغه صورت کې هم مدعی علیه تبدیل غوښتلای شي. طبق ماده ۵۷ د محاکمو لائحه.))

دا چې پورته ذکر شوی متن د اسلامي امارت د محاکمو عالي اداري لخوا د مکتوب نمبر(٥١ج٥) مورخ ١٤٤٢/١/٤ هـ ق په توسط د اسلامي امارت ټولو محکمو ته استول شوی دی بناءً د دوهم ځل استولو په موخه ستاسو درانه او محترم مقام ته پیشنهاد شو هغه څه چې ستاسو هدایت وي واجب التعمیل دي.))

د پورته مکتوب په اړه عالي شورا د تصویب نمبر (۴۲) مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هـ ق په اساس داسې هدایت وکړ:

((دارالانشاء ریاست دې مذکور مکتوب په متحدالمآل ډول ټولو محکمو ته واستوي.))

بناءً د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصویب هدایت، د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو، دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۷
### نیټه: ۱۴۴۴/۱/۲۵ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئیس شیخ الحدیث الحاج مولوي عبدالحکیم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د محترمو اعضاؤو، د مرکزي دیوانونو د محترمو رئیسانو او د مرکزي قضائي ریاستونو د رئیسانو صاحبانو په ګډون په تاریخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د اسد میاشتې دولسمې نیټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوه چې د تصویب نمبر (۳)مورخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق په توسط د بعضې موضوعاتو په باره کې پرېکړه وشوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شي، په همدغه اساس یاد موضوعات د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شوه چې په هغه کې دریمه موضوع د خارجي وکالت خط د ترتیب په اړه د دارالافتاء ریاست فتوی په باره کې وه چې په نوموړي فتوی کې د خارجي وکالت خط د ترتیب لپاره درې طریقې ذکر شوې وې او په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا داسې فیصله وشوه:

((د دارالافتاء ریاست دې دغه مسئله وګوري چې (د هیواد څخه د باندې سفیر یا قونسل ته په قضائي صلاحیت ورکولو سره ترتیب شوی وکالت خط شرعاً په محاکمو کې معتبر دی او که نه؟)

د یادې فتوی دوهم صورت: که چیرې مدعی علیه په حضور د قاضي کې د وکیل په وکالت اقرار وکړي.

یا د وکیل د وکالت تر دعوی وروسته شاهدان په محکمه کې د مؤکل لخوا نوموړي وکیل ته د وکالت په ورکولو شاهدي اداء کړي په دواړو صورتونو کې د محکمې لخوا د وکالت خط ترتیبول کوم شرعي مشکل نه لري.))

بناءً د یاد مجلس پورته تحریر شوې دریمې موضوع په اړه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فیصله د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

یادونه:د سترې محکمې د دارالافتاء ریاست د پورته ذکر شوې فتوی یوه کاپي د دې متحدالمآل مل په(۵)ورقو کې و ټولو محکمو ته واستول شوه.



د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
publication@supremecourt.gov.af
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمیرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳